**مسلمانه افغانه ښځه؛**

**په ډیموکراسۍ کې د رقابت، خوند او سیاسي فشار وسیله او په اسلام کې د نسلونو او اتلانو روزونکې!**




**خبر:**

بریتانوي ګارډین او ځینو نورو ورځپاڼو د جمعې په ورځ (د نومبر په ۳۰مه) یو راپور خپور کړ، چې پکې راغلي؛ د افغانستان د ښځو د فوټبال تیم پورې اړوندو مهمو څېرو تور پورې کړی چې په فبرورۍ کې د افغانستان د ننه د فوټبال د فدارسیون په ګډون او د اردن په یوه ښوونیز کمپ کې د نومو‌ړي تیم پر غړو جنسي تېری او ورسره ناوړه چلند شوی. د افغانستان د لویې څارنوالۍ له اعلان وروسته چې ویلي یې دي، د افغانستان د فوټبال په فدراسیون کې د جنسي تېري ادعاوې څېړي، د افغانستان د ښځو د فوټبال پخوانۍ لوبغاړې او مسووله مدیره خالده پوپل او ځینې نورې لوبغاړې چمتو دي، چې په دې اړه لویې څارنوالۍ ته اسناد او شواهد وسپاري. دوی زیاتوي چې د خپلو ادعاوو په اړه انځورونه او ویډیوګانې لري او تر دې وړاندې یې د فوټبال له نړیوال فدراسیون «فیفا» سره شریک کړي دي. (آزادي راډیو)

**تبصره:**

ټول ښه پوهېږي چې د حاکم کفري نظام تر سیوري لاندې د ټولنې په ټولو ډګرونو او د انساني معاملاتو په بېلابېلو برخو کې له ښځو سره دا ډول ناوړه چلند او جنسي تېري دوام لري. مګر ځینې وختونه د خلکو حساسیتونه او شخصي رقابتونه او اکثره د بهرنیو موسسو لمسونې او د کفارو پروګرامونه د دې لامل کېږي چې د مسلمانانو په ټولنو کې دا ډول ناوړه پېښې

رسنيزې شي او د عامه افکارو فضا ونيسي. دا هم د دې لپاره چې کفار د مسلمانانو په ټولنو کې ډېر حساس موضوعات غير حساس او عادي کړي. بېشکه دا يو له همدغو مواردو څخه دی.

که څه هم ښځه په افغانستان کې د اسلامي دولت په نشت کې پرلپسې له دا ډول مهلکو خطرونو سره مخ ده؛ خو بيا هم په افغانستان کې د ښځې عزت، کرامت، عفت او جامه د افغانانو سره کرښه وه، مګر د ناټو او امريکا لخوا د افغانستان له اشغال وروسته -د ۱۸ کلونو په اوږدو کې- ښځه او مسلمانه کورنۍ د کفارو د سفارتونو د پروګرامونو يوه اساسي موخه ګرځول شوې، چې د بېلابېلو موسسو، بنسټونو او د افغانستان د دولت د ټولو ادارو په وسيله پلي کېږي. تر دې چې هېڅ پروژه تر هغه د تمويل کوونکو علاقه نه جلبوي، ترڅو چې د جنډر (جنسيت) امريکايي-غربي پاليسۍ ته پکې پام نه وي شوی. حتی د جنيوا په ګډون په اکثرو نړيوالو کنفرانسونو کې نړيوالې ټولنې ته د افغانستان د دولت يوه ژمنه همدا موضوع وه. نو امريکا او غرب د افغانستان د دولت او غير دولتي موسسو په وسيله مسلمانه ښځه له دا ډول ناوړه برخليک سره مخ کړې ده.

د ښځې پر وړاندې دا ټولې فاجعې د ظاهراً ښکلو خو غولوونکو شعارونو لکه؛ فردي آزادي، د ښځو حقونه، د ښځو او ماشومانو ملاتړ، په دولتي او غير دولتي ادارو کې جنسيتي برابري او... لاندې تر سره کېږي. خو که ټول هغه پروګرامونه چې د دغو موخو او شعارونو د تطبيق لپاره چمتو او پلي کېږي، په هر اړخيز ډول مطالعه شي، په کره ډول دا پايله ترلاسه کوو چې امريکا، غرب او د افغانستان دولت کلکه اراده کړې، ترڅو هغه لږ څه چې د اسلام له آدرسه د افغانانو په ژوند کې پاتې دي، د هغوی له ژونده بشپړ لرې کړي او پر ځای يې هڅه کوي د افغانو ښځو او نارينه وو افکار په غربي افکارو مسموم کړي، کوم چې له لوړو اسلامي ارزښتونو سره بشپړ په ټکر کې دي. ترڅو د افغانستان مسلمانه ښځه له خپلې شخصي ازادۍ څخه په ګټې اخيستنې، چې په دا ډول ديموکراټيکو دولتونو کې ورکړل شوې ده، خپله شرعي جامه له تنه وباسي او د تبرج په حالت بازار ته راووځي. په داسې توګه چې له سړيو سره په ټولو برخو کې همکاره وي، عفت يې له ګواښ سره مخ وي او حتی په ځينو مواردو کې يې ټولنيز ژوند پر زنا پای ومومي؛ خو ولي (سرپرست) يې د دې د ممانعت، محاسبې او کنټرول اجازه ونه لري.

په داسې حال کې چې ښځه په اسلام کې عِرض (د شرف، عفت، عزت او کرامت خاوند نفس) دی او ساتنه يې پر مسلمانانو واجب ده. ښځه په اسلام کې خور، مور او مېرمن ده. ښځه د کورنۍ په چارو کې سرپرسته او د سړي ځايناستې ده. ښځه د امت د نسلونو او اتلانو روزونکې ده. ښځې د سړيو شقايق (نيمايي يا بشپړوونکې) دي او رسول اللهﷺ له دوی سره په چلند کې تل د خير توصيه کړې ده.

غرب د خپل بشري نيمګړي عقل په وسيله ښځه د جنډر (جنسي برابرۍ) تر مفهوم لاندې له ټولو فطري او طبيعي توپيرونو جلا کړې او په دروغو يې دا ورته تفهيم کړې چې سړی او ښځه دواړه په ټولنه کې يو د بل رول ادا کولی شي. حتی په دې وروستيو کې يې د جنسيت د بدلون پروګرامونه هم پيل کړي او د بشر په ټولنيز ژوند کې يې تبا کوونکی طوفان رامنځته کړی.

دا د بشري فکر پایله ده چې د ښځې مقام یې له بشریت څخه دنیوي متاع ته راټیټ کړی او له هغې څخه په سوداګریزو اعلانونو، د ښکلا په مسابقو، د جامې د موډ په ننداریتونو، ګډو کاري دفترونو، د نڅا او موسیقي په ګډو محفلونو، نیمه بربنډو ورزشي مسابقو او نورو کې بېباکانه ګټه اخلي.

اسلام د بشر د خالق دین دی، چې ښځې ته یې خپل اصلي مقام ورکړی. ښځه په اسلام کې انسان ده، نه متاع؛ د کرامت خاونده ده، نه د سپکاوي؛ مور ده او تر قدمو لاندې یې جنت دی. ساتنه یې پر نارینه وو واجبه ده، ترڅو د هغې د حیاء، عفت، پاکۍ او کرامت سبب شي. مسلمانان د مرګ تر پولې د هغې د ساتنې لپاره غیرت کوي او له هغې څخه د دفاع په حالت کې که ووژل شي، د شهادت لوړ مقام ته رسېږي. همدا مفکوره په ټولنه کې د دیوثۍ، رذالت، فحشا او منکر د له منځه تلو لامل کېږي. ګني له دې پرته د هرې ښځې او نجلۍ برخلیک د دنیا او آخرت له رسوایۍ او ګواښ سره مخ کېږي.

**نو اې مسلمانې خورې! اې د افغانستان غیرتمنو خلکو!** د اسلامي دولت (خلافت) د تاسیس او د اسلام د هر اړخیز تطبیق لپاره له موږ سره راپاڅئ او د استعمارګرو کفارو، لاسپوڅي دولت او د دوی د موسسو د ټولو موخو، شعارونو، پروګرامونو، اسالیبو او وسایلو پر ضد لاس په کار شئ او د مسلمانې ښځې، مسلمانې کورنۍ او د مسلمانانو د ټولنیز ژوند پر وړاندې دا ستره دسیسه په نطفه کې خنثی کړئ، ترڅو په ټولنه کې د زنا او د رذایلو او فحشا د ټولو ډولونو مخه ونیسئ. نو له یوې خوا به په دنیا کې د الله سبحانه وتعالی رضایت تر لاسه کړو او له بلې خوا به په آخرت کې هغه جنت وګټو، چې پراخوالی یې له ځمکې او اسمانونو څخه زیات دی.

**سیف الله مستنیر**